استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

عبدل قیوم ۲۸جولای، ۲۰۲۲

# ۱۳۵۲د چنګاښ ۲۶ د بد مرغیو پیل وو.

## سردار محمد داود خان او داود خانی له ۱۳۵۲ – ۱۳۵۷هـ پوري

څلورمه برخه

داود خان او بیکاره کابینه يي باید پوهېدلای چي د امریکا د حکومت نظر خو د شاهي کورنی په باب د ډېر پخوا څخه روښانه وو، دوی دا نسوای درک کولای، کیسه داسي وه: په ۱۳۳۴هـ ش کال کي د امریکا د جمورریس مرستیال نیکسن افغانستان ته په رسمي سفر راغلی وو. نیکسن تر لیدنو او ملاقاتونو وروسته کله چي بېر ته زموږ له هیواده تلی د مطبوعاتي کنفراس پروخت د خبریال د پوښتني په جواب کي د خپل نماینده په خوله د افغانستان په هکله یوه خبره او پخه خبره وکړه:" په افغانستان کي نورد پرمختګ استعداد نسته". په ربښتیا امریکا د"نیکسن" ترسفر وروسته د افغانستانه لاس پرسر سوی وو. آمریکا دا شاهي کورنی ښه وپیژنده، چي سردار محمد داود هم د دې کورنی د بدني څخه یو فعال خو لیونی وه. کله چي سردارمحمد داود هرات ته ورسیدی په هرات کي داود خان د لومړي ځل لپاره خوله خلاصه کړه په خپلو خبروکي يي لڅ داسي وویل:"هغه واریداتي عقاید چي نوي وطن ته راوړل سوي دي هغه باید لیري واچول سي.. .. .. " چي د دې خبري څخه يي واضح مطلب د وخت شوروي اتحاد او د ایران دولت د واړو ته په نژدې سرحدي ښارهرات کي د هغوی په غوږنو کي د یوه بې وخته اذان کول وه، داود خان پدي نه پوهیدی چي هر څه او هره خبره خپل یومعین ځای او وخت کي کیږي بې وخته او بې ځایه اذان د سږي سرخوري. زموږ په کلیو کي به خلګو ویل :"چرګ چي بې وخت اذان وکړي باید حلال سي".

د سردار دغه اعلان شوروي ته د ګوت څنډني مانا لرل، او هم د ایران د دولت خبرول وه چي هغه وخت يي په منطقه کي د امریکا د ګټو ساتنه کول، څو د غربي نړی پام خپل لوری ته را وګرزوي. له بهر څخه بیر خپل هیواد ته تر راتلو وروسته بیا په هرات وینا د کور د ننه يي خلقیانو،

پرچمیانو او مذهبي بنسټ پالوته هم سیده اخطار ور کونه وه. خو پر سردارمحمد داود خان بیچاره ډېر ناوخته سوی وو.

کابل ته په رارسیدو سره یې سمدستي اول قدم کي چي پورته کړ هغه د پرچم څخه د ځان او خپل حکومت خلاصون وو. لومړی یې د پرچم د ډلې لوړ رتبه کسان کوم چي د سردار سره په دولت کي وه لکه: جیلاني باختري، نظرمحمد سکندر، نعمت الله پژواک، له وظیفو لیري کړل. فیض محمدئې له وزات داخله څخه د سرحداتو وزارت ته تبدیل کړی، سعیدافغاني یې له وظیفي لیري کړی، پاچاګل وفادارئې سفیر کړ، عبدالحمید محتاط یې سفیر کړ.

په۱۳۵۵ هجري کال کي د د لوی د میاشتې پر ۲۵ تاریخ یعني د سردارمحمد داود خان د حاکمیت له درې نیمو کلونو وروسته یې بیا یوه ساختګي او نمایشي لویه ډرامه (لویه جرګه) د خپلوحکومتي او استیخباراتي شبکو پرلاس چو نولي د خپلي خوښی خلګ او یومعین شمېر باوري لوړ رتبه دولتي مامورین د کابل پولي تخنیک په لیلیه کي ترسخت امنیتي کنترول لاندي سره کښینول، د جرګي د ټولوغړو تماس او ارتباط له د باندي سره قطعه وو. د اساسي قانون مسوده فقط درې ورځي د جرګي تر پرانستلو مخکي په هغو اخبارو کي نشرسوه کوم چي حکومت ورته د نشر اجازه ورکړې وه. عجب عدالت، عجب قضاوت، عجب حکومت د هیواد اساسي قانون دولس د خبر تیا، مطالعې او نظرورکولو د پاره درې ورځي وخت هغه هم په افغانستان غوندي هیواد کي؟. په دې چي واکدارو مو ځانونه پښتانه بلل خونه یې پښتوزده وه، نه یې په پښتو څه لوستلای سوای او نه یې کورنۍ له پښتو سره مینه لرل او نه یې پښتو ژبي ته کارکړی دی ځکه پښتو ژبه خو ددې کورنۍ پلارنۍ او مورنۍ ژبه نه وه.

سردارمحمد داود خان بیله دې چي خپل دولت ته یې بله تکیه ګاه پیداکړې وي، د وخت د شوروي ځان لیری کړه، دا منا چي سردار محمد داود خان بیله پراشوټ لرلو د طیارې څخه ځان را وغورځاوه. اصلا د داود خان عقل کار نه کاوه خارجي او داخلي دواړو سیاستونو یې ناکام وه. نقیصه په سردارمحمد داود خان کي وو، نه خپله پوهیدی او نه یې د بل خبره او رېدل او نه یې هوښیارڅوک ځانته نژدې لاره. په وطن کي د ننه هغه یوازنی قوت چي د ده حاکمیت یې له چپه کیدوڅخه ساتلی وو همدغه د شوروي طرفدار سازمانونه یا حزبونه (خلق او پرچم )وه، د پردې شاته هغه د شوروي د کاجي بې پلانونه چا ته لڅ نه وه.

کله چي سردارمحمد داود خان او حکومتي د ستګاه یې د سیاسیونو په نیولو او وژلو کي مصرف سوه، په هیواد کي نورو سیاسي ګروپونو چي تنورګرم ولېد، هر ګروپ تر ضرورت اضافه اوړه

خیشته کړل خپلي ډوډۍ یې پخولې، ځانونه تقویه کول، د سردار محمد داود خان د قهره څخه د خلا صون او نجات لاري یې لټولې. د سردار محمد داود له سپیني کودتا څخه په الهام سره ټولو یوه لنډه لاره دا بلل چي په اُردو او امنیتي او رګانو (فوځ) کي نفوذ وکړي، د ځان او خپلو ډلو په ګټه کارته لاس وا چا وه. هرحزب او سازمان خپل د جلب او جذب توجه نظامي افسرانوته ور وا ړول.

سردار کبیر سراج د داود خان د کړنو، ځان غوښتنو په باب داسي یولنډ بیان کوي. داسي لیکي:" تقریباً څلورنیم کاله د داود خان د جمهوریت تیرسوي وه. چي د فعتاً مو د رادیو د نشراتو له لاري دعبدالاله د تقرر هغه هم د رېس جمهور د مرستیال په حیث وا وربد. د دې خبر تر نشر وروسته د ستي د نه خوښی په ظاهر کولو سره سردارسلطان محمود غازي چي دغه وخت رئیس د توریزم او هوائې وو، له وظیفي څخه خپله استعفأ په لیکلې او رسمي ټوګه سردار محمد داود خان ته وا ستول. دغسي د سردار محمد داود خان ورور سردارمحمد نعیم خان د خپل کور سامانونه د طرابازخان په څلورلاري کي په یوه دوکان کي د خرڅلاو لپاره کښیښول. کله چي دا خبر و سردار محمد وداود خان ته ورسېدی، سر دار محمد داود خان ژر خپل ورور سردار نعیم خان او خپل زامن کور ته وغوښتل. د لته وو چي سردار محمد نعیم خان و سردار محمد وداود خان ته وویل:

" تر اوسه ما او تا تصمیمونه په ګډه نیول، خو دا وروستی تصمیم دي زما له مشورې به غیرنیولي دی، یعني دعبدالاله مقرري. په دې منظورمي تصمیم ونیوې چي له خپلو ورېرونو سره یوځای افغانستان ترک کړم. " وروسته تر څه ګیلو، ګذارو او تهدید فیصله پردې سول چي دوی په کابل کي پاته سي. خو په دغه شپه د پلار نازولي زوی ویس پر خپل پلار سردار محمد داود خان باندي انتقاد وکی ورته وئې ویل:

پلارجانه! تا ډېر عمر ژوند وکړی، نایب الحکمه، وزیر، صدراعظم او بلاخره رئیس جمهورسوې. لیکن موږ بیچاره ګانو چي تازه مکتب خلاص کړی دی، او اولادونه هم لرو موږ غواړو ژوند وکړو، موږ ته هم اِجازه راکړه چي خارج ته ولاړسو، ستا څخه پیسې نه غواړو. خپله زحمت کاږو خپل ژوند مخته وړو. سر دار محمد داود خان ډېر په قهر سو په هغسي قهر جنه لهجه یې آمر وکړئ چي د کورنی ټول غړي به په هفته کي یوځل د جمعي په شپه زما په کورکي راټولېږي. خو د انتقاد او پر سیاسي مو ضوعاتو د بحث حق به څوک نلري ".

د یکتاتور نو لکی لري په کور کي هم د یکتاتورسو. ویس د خپل پلار د دې ډول خبرو څخه ډېر خفه وو، تردې بحث یا د پلار تر خشن عکس العمل ښکاره کولو وروسته یې ماته وویل :"چي زه او ته (ویس او کبیرسراج ) باید ژرژر سره ووینو ځکه زما عمر ډېر لنډ دی. ویس زما ملګري وو

ماته دغه جریان وو ایه. ما تعجب وکړاو ورته ومي ویل ستا پلار د مملکت رئیس جمهوردی، په دې قدرت چي هغه یې لري څوک به هغه او د هغه کورنۍ له منځه وړلای سي؟ پلار دي سمبال پوځ لري او یو تعداد ځوانان پر را ګرځیدلي دي، حکومت پر وضعه مسلط دی. ویس د خندا په ډول را ته وویل! د پلار ټول دوستان مي د هغه د ښمنان دي، پلارمي یو د واوري زمری دی چي له د ننه څخه ویلې سوی دی. او علاوه یې کړل چي پلار مي هر ځل وائې چي زه وړونکی یم، خو که وړونکی نه سم هیڅ یو زما د فامیل دي دا ارزو نه کوي چي ژوندی به پاته سي. او که پاته سي ډېري پستۍ او خوارۍ به ویني".

سردارمحمد داودخان ته خپل اعمال، وژني، د خپلي کورنۍ کړني له ولس سره د هغوی ټولي جفاوي ښه معلومي وې، او ځان یې د ولس په هنداره کي ډېر بدرنګ لېدی، د ولس له قهره سخت ببرېدی، چي خپلي کورنۍ ته داسي واي :"هیڅ یو زما د فامیل دي دا ارزو نه کوي چي زما د پلان تر نا کامېدو وروسته دي یو هم ژوندي پاته سي، او که پاته سي نو ډېري پستۍ او خوارۍ به ویني".

د سردار محمد داود خان خپل پلان له کورنۍ سره شریک کړی وو. سردار محمد داود خان له ډېر وخته پلان لاره چي په هیواد کښي منور او مبارز خلګ ټول په نوبت سره بندیان او ووژني. ځکه یې خپلي کورنۍ ته ویل چي زه په خپل پلان کي بریالی کیږم، خو زوی یې "ویس" پو هېدی چي پلار یې ناکامه کېږي ځکه کبیر سراج ته ویل چي ژر ژر به سره وینو زما عمر لنډ دی.

دې ساده مغرور ځان خو څه چي کورنۍ یې هم پدي باوري کړي وه چي د پاچهۍ ترچپه کېدو وروسته زموږ. د کورنۍ د ظالمانه اعمالو په خاطرتاسي ته نور په دې هیواد او خلګو کي ځای نسته، د سردارکبیرسراج او ویس د خبرو څخه سړی پوهیدای سي چي سردارمحمد داود خان د خپلې شاهي کورنۍ په منځ کي پردې پلان خبري کړي وي، چي څوک او په کوم شمېر افغانان به دی نسي او په څه شمېر له هغو څخه بیا وژني، او د ناکامۍ په صورت کي یې د خپلی کورنۍ د وژلو او د منځه وړلو خبره هم په د یکتاتورانه شکل په دوی باندي منلې وه. ځکه ویس ځوان او تر پلار هوښیار وو د دې خطر ناکي لوبي په انجام او حتمي ناکامي پوهیدی، او د خپل پلار ناکامي یې احساس کول.

خو سر دار داود خان د خپلو او لادو نظر ته هم اهمیت نه ورکاوه، ځکه ویس وسردارکبیرسراج ته وائې چي :زما ژوند ډېر لنډ دی. ولي یو زمامدار داسي فکر کوي چي ترده وروسته به د ده د کورنۍ سره د ولس لخوا حتمن بد چلند کیږي؟که زمامدار په خپله زمامداري کي د ولس سر، مال او ناموس ته په درنه سترګه کتلي وي، او خلګو ته یې خدمت کړي وي بیا نو ولي له ولسه دونه نا امیده سي، چي تر ناکامېدو وروسته به یې د کورنۍ سره ناوړه چلند کیږي؟.

salamwatanam@gmail.com

سردار محمد داود خان دا خبره و خپلي کورنۍ ته د ثور تر نظامي پاڅون څخه څو ورځي مخکي کوي سردار کبير سراج ليکي: "د پنجشنبې ورځ چي د کمونيستي کودتاه ورځ وه. ما د آمريکا له سفير سره د تينس مسابقه لرل. نظام الدين غازي چي زما نژدې ملګري وو همیشه مو یوځای د تينس لوبه سره کول. هغه ما ته تليفون وکړی چي نن کور ته درځم دغرمي ډوډي درسره خورم د هغه ځايه به د تينس د لوبې لپاره د امريکا سفارت ته سره ولاړ سو. ما پر ۱۲ بجو خپل کور ته ځان را ورساوه، نظام الدين غازي ته انتظار باسم. دا دی د داود خان له کوره تليفون راغلی چي د سردار محمد داود خان پياده کريم خان (ملازم يا چپراسي) راته وويل رهبر( داود خان) امر کوي چي نظام الدين غازي عاجل ارګ ته را واستوه. ما په جواب کي ورته وويل چي نظام الدين غازي تر اوسه زما کورته نه دی را رسيدلی. ما ته يې ويلي وه چي پر پينو درځم، شايد په لاره کي وي. موټر پسي واستوه، لاکين زما انتظار ترنن ورځي بې ګټي دی. داسي معلومه سول چي د داود خان موټر نظام الدين دلاري وړې وي." نظام الدين غازي د داود خان د کاکازوی او زوم وو. په آينه افغان مجله کي دا بيان واضح راغلی دی.

بيا به يو څه به په تاريخ کي شا ته ولاړ سو، چي دا درې د اکا زامن لږ نور هم و پيژنو هغه وخت چي محمد ظاهر خان د خپل پلار محمد نادر خان اساسي قانون فسخ کړ، په عوض يې نوی اساسي قانون ترتيب کړ، په دې اساسي قانون کي يې د سردار محمد داود خان د مهار ولو په خاطر په اساسي قانون کي دا ماده راوړل چي د سلطنتي کورنۍ غړي حکومت نه سي جوړولای،مانا صدارت به د شاهي کورنۍ د غړو به غير د ملت د افرادو څخه يو کس دې مقام ته ټاکل کيږي. څونه ښه، په ډېر خفګان سره په دغه قانون کي بيا پاچا بې مسؤليته(واجب الاحترام) د مملکت د ټولو قوواو څخه د زيات صلاحيت څښتن بلل سوی وو. حال دا چي د اسلام د قانون له نظره هر څومره چي د يوه شخص صلاحيت ډېرېږي مسؤليت يې هم ايضافه کيږي. (يوازي وړکی او ليونی مسؤليت نه لري). د دغه اساسي قانون د روحې په اساس د احزابو د جواز يوه اصولنامه هم ومنل سوه. د هغې اصول نامي له برکته يو شمير سياسي سازمانو او اخبارونو په ښکاره خپل فعاليتونه شروع کړه.....

د خواشينۍ ځای دی چي دغو درو ( محمد ظاهر، سردار محمد داود او سردار نعيم) د کاکا زامنو هيڅ کله هم قانون ته په درنه سترګه نه دي کتلي د دوی تر منځ د کورنۍ موافقې وروسته يې هغه قانون لوی جرګې ته وړاندي کړه چي لوی جرګي و مانه، خو دوی خپله هغه قانون ته په درنه سترګه نه کتل خپله يې د اساسي قانون خلاف کړني سر ته رسولې د مثال په توګه: د اساسي

قانون تر تصویب او انفاذ لږ وروسته یې د صدارت چوکي د سلطنتي کورنۍ غړي سردار محمد داود خان ته ورکړه.

سردار محمد داود خان د خپل صدارت په شروع کي یو ځل په کندهار کي په ډله ایزه توگه د ولسي خلگو په وینو لاسونه رنگ کړه. د سردار محمد داود خان د صدارت په دوره کي چي د ښځو مخ لڅی اعلان سو، نو په کندهار کي د وخت والي محمد صدیق خان وزیري د کندهار د ښار مخورو او دولتي مامورینو ته په یوه د ولتي میلمستیا کي د گډون بلنه ورکړه، په بلنلیک کي یې دا خبره ورسره ایضافه کړي وه چي هر څوک مجبور دی میلمستیا ته د خپلي میرمني سره چي مخ یې لڅ وي راسي. دا غوښتنه پر یو شمیر مخورو او مامورینو ښه ونه لگېده، یو شمېر مشخصو مخورو عام خلگ را و پارول په سبا په ښار کي د خلگو مظاهره را ووتل. مظاهره چیانو د کندهار سینما ته اور وا چاوه  په ښار کي یوه گډوډي جوړه سوه. صدر اعظم داود خان له موضوع خبر سو، امر یې وکړه چي په کندهار کي دي حکومت عسکري سي، مظاهر چان دي سخت و ټکول سي او والي دي کابل ته راسي.

جنرال خان محمد خان په کندهار کي د فوځ مشري کول، د مظاهرو د مخنیوي په خاطر یې یو ډېر شمیر عسکر ښارته را وایستل په نتیجه کي پر مظاهره چیانو باندي یې شلیکونه وکړه ډېر شمیر خلگ و نیول سوه، زخمي او ډېر شمیر مړه سوه. ښاغلي محمد نادر ایوبي په خپل اثر" پاچهانو څه کول" په ۵۹۴ صفحه کي لیکي(( د دې پېښي څخه څو ورځي وروسته زه له کابل څخه کندهار ته ولاړم. مرحوم ډاکتر آدم خان "درمل" چي زما اشنای وو، له هغه څخه مي په خصوصي ډول پوښتنه وکړه چي د کندهار د مظاهره چیانو څخه به څو نفره په هلاکت رسېدلي وي؟ ډا کتر آدم خان چي په دغه وخت کي د کندهار د قول اردو عسکري سر طبیب وو، ما ته په جواب کي وویل چي: جنرال خان محمد خان تر مظاهرې وروسته ما ته امر وکړ، چي ورسه هغه کسان چي په هلاکت رسېدلي دي په یو ځای کي ښخ کړه او د ټپیانو معالجه دي وسي، زه ورغلم تر اووه سوه (۷۰۰) یو څه زیات خلگ په هلاکت رسېدلي وه زما (د دې کتاب لیکونکي) محض اووه سوه په یادي او ایضافه یې را څخه هېر سویدي. آدم خان درمل وویل چي ټول مو د عسکري ټرکونو په زریعه انتقال او د ښار بهر مو ښخ کړه.......... په کندهار کي د حکومت له بېري هیڅ چا د خپلو مړو بحث هم په علني ډول نسوای کولای چي څه سول.... ))

بل روایت، دغه درې واړه د کاکا زامن برابر وه.  یو وخت چي د کابل د آنیس ورځپاڼي مؤسیس او د (بحران نجات) د کتاب لیکونکی غلام محی الدین آنیس نا جوړه وو، ډاکتر پوښتنه ور څخه

وکړه چي صحت دي څنگه دی؟ غلام محی الدین آنیس ورته په جواب کي وویل: اوس ښه یم، هغه میکروب چي زه یي ناجوړه کړی وم وژل سوی دئ ( د آنیس مطلب د پاچا د پلار محمد نادر خان د وژلو څخه وو). دا خبر و محمد ظاهر شاه ته ورسېدی. بیله د محکمي له حکمه ظاهر شاه غلام محی الدین آنیس په کلو کلو تر هغه وخته بندي و ساتۍ چي نور یې د کار او خبرو توان نه لاره. علما واي: عقل هغه عامل دی چي د طبعیت پر ښکلا او تنظیم حاکم دی، که پر دې جهان باندي عقل حاکم نه وي او هغه د ټاکلي هدف پرلور بو نه زي، دا تر تیب به څرنگه امکان ولري؟ په وروستیو کي نو په رښتیا سره سردار محمد داود خان د خپل عقل په تیاره کي د ارگ د ننه د خپلی کورنۍ مشورو ته یې هم غوږ نه نیوی. نور نو د ژوند امید ورته پاته نه وو، د کورنۍ غړي یې ځيني بېزارسوه، نور یې وژل یوازنې ښه چاره وه او بس.

سر دار محمد داود خان تر ځلور کلني مارشا الله ( دکتاتورۍ) چلولو وروسته لویه (چرگه) جرگه را وبلل، جرگه د دوو مقاصدو ( د اساسي قانون تصویب او د رئیس جمهور انتخاب) له پاره را غبښتل سوې وه. موږ تاسو ته معلومه ده په داسي جرگو کي چي دولتونه یې جوړوي دولس نقش او رول نه وي. هغه وخت هم ټولي معاملې د اوس په شان په دروغو پر مخ وړل کېدې". د دولت لخوا د خلگو د خبر تیا له پاره یوه ورځ ترغرمي ورسته په کم تېراژ اخبار بازار ته را ووت چي په هغه کي د اساسي قانون مسوده چاپ سوې وه. شمارې یې هم محدودي وي. باورنه لرم چي ولس دي هغه لوستی وي حتی د لوې جرگي پوره اکثریت غړو قانون ساسي نه وو لوستی، د جرگي شل فیصدغړي نه پوهیده چي د څه له پاره را غونډ سوي دي. ٪۳۰ غړو سواد نه لاره.

کله چي سردارداود خان د یوې فرمایشي جرگي ته حاضر سو، د یوې جوړي سناریو له مخکي یې وویل: زه دغه (ریاست جمهوري) نه کوم، تاسو یو بل کس وټاکی. د جرگي غړو ټنگار وکړه د جمهوري ریاست مسؤلیت قبول کړي، بیا نو سردار محمد داود خان وویل زه دا مسؤلیت هغه وخت قبلوم چي تاسي زما شرطونه منی.. .. .. . د لته په مجلس کي یو شمېر ناستو.. . ډوډۍ خورو خلگو سردار محمد داود خان خبرو ته پرې نښود، چي څه به یې ویل؟ ډوډۍ خورو نارې کړې ستا هر شرط منو صاحبه. خبره خلاصه سول، دا معلومه نه سول چي سردار داود خان څه غوښتل ووایي. سردار محمد ادود خان رئیس جمهور وو او رئیس جمهور سو. بل د جرگي ناوړه فیصله داوه چي په قانون کي د مطبوعاتو آزادي مطلق نفي کړل سوې وه. د دروگونو قواو تفکیک پکښي سم نسوای کیدای. یو حزبي سیستم چي هغه هم د سردار محمد داودخان حزب به وي سیاست او سیاسي فعالیت کولاې سي. څو نه دغه پریکړي د بشري او الهي قوانینو سره برابري وې ؟ د هیڅ گډونوال وجدان

د دي مادي پر تائيد و نه لړزېدی، ولي؟ بل درياست چوکی له پاره يو کا ندید وو بله مورنه وه لنګه سوې، يوازي سردارمحمد داود خان وو او بس. څنګه چي داود خان له جرګې څخه راووت د جزأ قانون نافذ کړی ټول سياسي فعاليتونه يې غيري قانوني وبلل.

هرڅه يې د خپلی شاهي کورنۍ او پلارميراث بلی. سره ددې ټولو کمبوديو اونيمګړتياوو، بياهم د افغانستان دخلق دموکراتيک ګوند د داودخان حکومت نسبت د ظاهرخان پاچهۍ ته يو مترقي حکومت بلی، دا ځکه په اقتصادي برخه کي يې څه قدمونه پورته کول، پدې اساس خلقيانو د سردار محمد داود خان د حکومت مخالف عمل نه کاوه. د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند(خلق او پرچم ) د واړو په خاص ډول خلقيانو چي له داود خان سره په حاکميت کي شريک نه وه، خو بيا يې هم د سردارمحمد داود خان جمهوري سلطنت، ترشاهي نظام مترقي او ښه بلی. خلقي بخش د سردارمحمد داود خان د حکومت د پاليسی مخالف نه وو. حتی همدغه خلقيان يوازنی قوت وو چي د جمهوريت څخه يې ساتنه کول د خلقيانو مشر تابه پوهېدل په دې چي د ليوني سردارمحمد داود سره بايد په احتياط ژوند وسي او سردار محمد داود خان پرېښول سي چي کومه برنامه (خطاب به مردم) په سمه توګه عملي کړي.

اما کله چي خلقي رهبرۍ ته دا ثابت سول سردار محمد داود خان پلان لري ټول مترقي شخصيتونه او مترقي سازمانونه يو په بل پسي د منځه وړي او غواړي وطن د مړو خالي کړي، نو دوی د سردار محمد داود خان د حملو څخه د خپل ګوند د ساتني په غرض په پوځ (اردو) کي د نظامي سازمان جوړېدل را پيل کړه. تر هغو چي سردار محمد داود خان سور شهزاده او د شورويانو په حلقه کي وو، د چپو سازمانو شوروي طرفدار سازمانوسره يې غرض نه کاوه، يا د هغوی نوبت لانه وو را رسيدلی. ليوني سردارمحمد داودخان چي د خپلو اجدادو څخه زده کړي وه هغوی پر خپل وخت څنګه دا وطن له مړوخالي کاوه؟. تيرو اجدادو يې لکه: دوست محمد خان ، مستبد وطن فروش اميرعبدالرحمن خان، زنبازحبيب الله خان، غدار نادرخان او عياش محمدظاهرخان ته انګريزانو ور زده کړي وو، چي په څو کلونو کي يوځل بايد خانه ټکاني و کړي. دی هم بايد د خپلونيکونو په شان د هغوی پرپلونو قدمونه کښيږدي، بايد دغه ناروا لاره تعقيب کړي.

"ويني تويول نه پټيږي او فتنه اچول په پای کي رسواکيږي " کليله او دمنه ص ۱۰۲.

د سردار محمد داود خان او د هغه د کورنۍ د وژل کيدو غمجنه پيښه پوهاند ډاکترمحمدحسن کاکړ په خپل اثر" د ثورکودتا او د هغي ژوري پايلې" چي په ۲۰۱۰م کال يا۱۳۸۹هجري کي له چاپه راوتي دی هلته په ۷۵صفحه کي د سردار محمد داود خان او د هغه د کورنۍ د وژلو داستان خلاف

د نور ټولو ادعاګانو چي کېږي اصلي کيسه داسی ليکي: " د يوه بل راوي په حواله، چي نه غواړي نوم يې واخستل شي، ښځي او ماشومان په اصلي کوټه کې او نارينه د ناستي په کوټه ياهال کې وو. پريکړه شوې وه، چي هيڅوک به ژوندی نه تسليميږي. د دغې فيصلې له مخې ويس دمحمد داود زوی د سهار په مهال د ښځو کوټې ته ننوت، په کلاشنکوف سره يې اول په خپلې ښځي، بيا په خپلوماشومانو، مور او نورو ډزې وکړې او په اخر کې يې خپل ځان وواژه. شنکی، د محمد داود لورهم ځان په خپله وواژه " بلې همداسي يو بل کس ښاغلی غوث الدين فايق هم دغي تراژدی ته په لنډ ډول دغسي اشاره کړې ده لکه ډاکتر محمد حسن کاکړ چي ليکلي ده.
کاشکي داسي نوای سوي.

د خپلو ليکنو له لوستونکو څخه بخښنه غواړم که چېري زما د دغي لنډي او معلوماتي"تاريخ او شننه" د ليکني په اساس را څه زهېر او خفه سوي وي. ډېرو دوستانو اجازه نه را کول چي زه پر ښاغلي سردار محمد داود خان انتقادي ليکنه وکړم، دوی سردار محمد داود خان مقدس باله. يا ورته مقدس ښکارېدی. البته له دوی سره به د سردار محمد داود خان د مقدس والي څه پټ ثبوتونه وه، خو ماته داسي څه پلاس را نه غلل چي د هغه پر مقدس توب ما قانع کړي. زما سره دا ثبوتونه وه چي ووايم سر دار محمد داود خان په افغانستان کي د ورستيو ټولو بد مرغيو اصلي (زنې) وو.

د څلورم برخه پای

salamwatanam@gmail.com